مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۶/۰۱/۰۴

# پښتو په نیویارک کې

دا ښه خبره ده، چې د نړۍ د یوه لوی ښار ښاروال پښتو په درناوي یاده کړې، خو پښتو ژبه باید د خپل لوی وطن په ښوونځیو، پوهنځیو، څېړنځایونو، رسمي ادارو، سوداګرۍ او رسنیو کې پیاوړې شي.

په دې ژبه کې باید عالي ادبيات وپنځي، چې عامه ذوق پیاوړی کړي، باید د ټکنالوژۍ او اړیکتیایي وسایلو ژبه شي. په نیویارک و لندن کې به هله د پښتو درناوی کیږي، چې د ساینس و علم ژبه وي، ادبي شهکارونه یې نړیوالو ژبو ته وژباړل شي.

د پښتو درناوی د ښاروال په یادونه کې نه رالنډیږي، که دا رښتیا د اویا میلیونه انسانانو "مورنۍ" ژبه وي، نو باید د دې ژبې اصلي ښښتني ، مانا د نن او سبا میندي زدکړو ته پرېښول شي. په نړواکه فرهنګ کې مورنۍ ژبه مري.

نوې پیداګوژي وايي:

یوازې هغه ژبې ژوندۍ پایي چې ماشومان یې د لوستیو او متخصصو میندو له ژبې و غېږې څخه ښوونځي، پوهنځي، بازار، دفتر، سیاست، ساینس، موسیقي، سینما، هنر او ادبیاتو ته ورپراخه کړي. د رسنیو او ټکنالوژۍ ژبه یې کړي.

پښتو په چیغو، ښکنځلو او خرافاتو نه پیاوړې کیږي.

بلکې:

"پوهنه په پښتو کې او پښتو په پوهنه کې!"



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ